مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني
۲۰۱۹/۱۲/۰۸

# د «زړه مينه»

# د ښاغلي نجم الدين سعيدي د شعري ټولګې په اړه يو څو خبرې

زړه مينه د نجم الدين «سعيدي » نوی شعري ټولګه ده چې چاپ ته اماده ده او د شعر او ادب مينه والو ته يې ډالی کوي.
پدغه شعري ټولګه کې «سعيدي» صيب دخپل ژوند هغه خوږې او ترخې راتولې کړي دي کوم چې د ژوند په مختلفو پړاونو کې په فکر او خيال کې انځور او د شعر په بڼه راوستل شوي دي.
که څه هم ښاغلی نجم الدين «سعيدي » د وطن څخه لـــرې د مهاجرت ژوند تيروي خو د وطن درد او احساس يې هميشه په ذهن او فکر تاثير لرلی دی او په دې اړه داسې وايي:

کور مو خراب وطن مو وران باغ او باغچې مو لوټ شوې
ځلمو راپاڅئ يو قوت شئ ويښيدل دي پکار
که سره يو نشئ وحدت او اتفاق ونکړئ
د دا دا کورمو لاس نه وځي خوځيدل دي پکار

سعيدي صيب د هيواد د ځوان کهول د پوهې او درايت په اړه داسې وايي:

کړه رڼا ټولو په علم خپل وطن
چې يې واغوستل لباس د علم او فن
رسوي ځان کمپيوتر کې ټول جهان ته
هم به جوړ کړي خپل وطن نه ښه ګلشن

د«سعيدي » صاحب د شعر او شاعرې دنيا نه تنها حماسي او تصوفي اشعار دي بلکه په درديدلي زړه کې يې مينه او احساس تر ډير حده پوره او کره ده چې د خپلې مينې په اړه داسې وايي:

يار د رقيبانو په لمسون شولو
ماته يې تحفه کې زولنې راوړې

کله هم د هجرت په دنيا کې يې د هيواد او خپلو هيوادوا لو څخه لرې والی يې د نا اميدې دنيا ته بيايي او وايي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

ځو مې مينه ځوانيدله عمر تير شو
د اشنا په ګل او باغ خزان چارپير شو
او په بل ځاي کې د ناخوالو په اړه داسې وايي:
زه به تر ځو پورې ناخوالې او دردونه ګالم
زه به تر ځو پورې بې ځايه رواجونه ګالم

او کله هم د خپلې تيرې شوې ځوانۍ په اړه داسې يادونه کوي:

د ځوانۍ مينه مې بيا يو ځل ژوندۍ شوه
د پيرې عصا مې غورځې تر لاسو

سعيدي صيب د پخوا څخه د شعر او شاعري سره مينه لرله چې ډيری شعرونه يې دهيواد په مختلفو جرايدو ، ورځپانو او همدارنګه په انټر نيټي پـــانو کې نشر ته رسيدلـــي او دهيوادوالو د توجه وړ ګرځيدلي دي.
زه «سعيدی» صيب ته د دی شعری ټولګې مبارکي وايـــم او همدارنګه هغه ته د پاک رب د درباره څخه د اوږد ژوند، سلامتي او پوره برياو هيله کوم.

په ديره مينه
سميع الدين افغاني
ماين اشف – جرمني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ